ټينګ اوسئ زلميانو ........................................................ ۲۲
پښتون يم د پښتو په لار ................................................... ۲۴
د افسوس اوښکې مې څي ................................................... ۲۵
زما سلام .................................................................... ۲۷
په افسوس افسوس.......................................................... ۲۸
موسم د پسرلي دی .......................................................... ۲۹
راځئ پښتنو ورونو.......................................................... ۳۰
نن زلميان د پښتنو تجربه کيږي............................................ ۳۲
وطن به ژاړي................................................................. ۳۳
نفسونه شول غالب .......................................................... ۳۵
بې غوره ياره ................................................................. ۳۷
څمکې تور لباس ګوزار کړ ................................................... ۳۸
په ننګ سترګې توروم‌ه...................................................... ۳۹
غم د پاسه غم دی............................................................ ٤۱
زه په چا، چا وژاړم خدايه ................................................... ٤۲
د غلامۍ نه سر په دار ښه دی.............................................. ٤۳
د پښتنې پيغلې او مور سوال او ځواب.................................... ٤٤
د پښتون او پښتنې سوال او ځواب ......................................... ٤٦
شهيده!....................................................................... ٤۸
نرۍ نرۍ لوګی ترې خيږي.................................................. ٤۹
راځئ پښتنو ورونو.......................................................... ۵۰

## سریزه

ادبي آثار د یوه ملت د فکري او فرهنګي ژوند ژوندي یادګارونه دي. د وتلو او نامتو شاعرانو کلام نه یوازې د خپل وخت د احساساتو، هیلو او فکرونو هنداره وي، بلکې د راتلونکو نسلونو لپاره هم د الهام سرچینه ګرځي. له همدې امله د داسې آثارو ساتنه او خوندي کول د فرهنګي مسئولیت تر ټولو ارزښتناکه برخه بلل کېږي.

دا کار یوازې د څو پاڼو د نقل یا ثبتولو عمل نه، بلکې د یوې فکري شتمنۍ د ژغورلو او د راتلونکو نسلونو لپاره د هغې د خوندي کولو هڅه دي.

کتاب چې یوازې په چاپي بڼه پاتې شي، د وخت له تېرېدو، د کاغذ له زړېدو او د لاس‌رسي له محدودیتونو سره مخ وي. خو کله چې همدغه اثر دیجیتال شي، نو د زمان او مکان له بندیزونو ازادېږي؛ لوستونکي کولای شي هغه هر ځای او هر وخت ولوستلای شي. په دې توګه د شاعر فکر، احساس او هنري پیغام د یوې محدودې کړۍ له منځه راوځي او د پراخ فرهنګي افق برخه ګرځي.

هغه شعري ټولګه چې اوس د لوستونکو مخې ته په دیجیتال بڼه وړاندې کېږي، د یوه پېژندل شوي او ولسي شاعر خدای بښلي ملنګ جان د «خوږې نغمې» شعري ټولګې غورچاڼ تر سرلیک لاندې د دغه ټول‌منلي ملي او حریت پسند شاعر د فکري او هنري هڅو یوه ارزښتناکه بېلګه ده. دا اثر پخوا په چاپي بڼه خپور شوی او د ادب مینه‌والو تر لاسونو رسېدلی و، خو د زمان له تېرېدو سره چاپي کتابونه کله ناکله له لاس‌رسي وځي او د لوستونکو نویو نسلونو ته یې رسېدل ستونزمن کېږي.

د همدې اړتیا له مخې د کتابونو دیجیتال کول یو ارزښتناک فرهنګي کار دی. د کتاب دیجیتال بڼه نه یوازې دا چې د اثر د ساتنې لاره هواروي، بلکې دا زمینه هم برابروي چې د لیکوال اثر او د شاعر کلام د زمان او مکان له محدودیتونو څخه ووځي او د

نړۍ په هر ګوټ کې د ادب مینه‌وال ترې ګټه واخلي.

پدې ارزښتناک کار کې د ادب او فرهنګ د رښتین مینه‌وال او خدمتګار ښاغلي قاسم آسمايي او د پرچم د انتشاراتو هڅې د قدر او ستاینې وړ دي. ما د کتاب د یو مینه‌وال لوستونکي په توګه تل د ښاغلي آسمايي له دیجیتال کتابونو ګټنه کړې ده او په څېړنیزو لیکنو کې مې دده له برکته ډېرو کم‌پیدا کتابونو ته لاس‌رسي پیداکړی ده. نو ځکه یې خپل دین بولم چې کورودانی ورته ووایم او په دغه ارزښتناک کار کې ورته د حوصلې او بریا هیله وکړم.

ارواښاد ملنګ‌جان په پښتو او پښتونوالې مئین هغه ملي شاعر دی، چې شعرونو یې د موسیقي په بدرګه د پښتنو په حجرو او ډېرو کې د هېوادپالنې، خپلواکۍ غوښتنې او ملي یووالي د روحیې خوشبویه عطر پاشلې او لا پاشي به یې.

قاسم آسمايي د کتابونو د دیجیتال کولو په لړ کې، داځل د دغه پیاوړي شاعر د ادبي میراث د ساتنې لپاره هڅه کړې ده، څو د شاعر غږ او پیغام د وخت له دوړو خوندي پاتې شي او تر راتلونکو نسلونو ورسېږي. دا هڅه یوازې یو تخنیکي کار نه دی، بلکې د فرهنګي وجدان او ادبي مینې څرګندونه ده.

هیله ده چې د دې کتاب دیجیتال بڼه به د شاعر د کلام د بیا لوستلو او پېژندلو لپاره نوې دروازې پرانیزي او د ادب مینه‌وال به ترې هغه خوند واخلي چې د اصیل شعر له لوستلو څخه ترلاسه کېږي.

محمدصفر خواریکښ

۱۳/۰۳/۲۰۲۶- کوپنهاګن

# د افسوس اوښکې مې ځي

د افســـوس اوښـــکې مې ځي لکه رودونه
چې میراث د پلار نیکه مې لاندې کېـــــږي
د افســـوس اوښـــکې مې ځي لکـه بـاران
پـه حســـاب سره زه اتـه ملیونـه کور یم
مـګـر دا چې غـوره کـړی مې دی صـــبر
عاقبت بـه مې د صـــبر کنډول مات شي
زه طالـب د خپل حقوق او اســـتقلال یم
یا به خاورې په دې لار کې خپل زلمیان کړم
ظـالـمـانـو کـړم بـېزار زه لـه ژونـدونـه

دم پـه دم مې د خولې خېژي فریـادونـه
ظالمان زما په حق نه قانع کېــــــــږي
پـه ژونـدون مې میراث بولي دوښـــمنان
هســــــې نه چه په دنیا کې زه کمزور یم
نـه ظـالـم یم نـه پـه چـا کومـه جبر
پـه دنیا بـه بیا بـل اور د پســـات شي
آزادۍ پـه نـامـه تېر تر سر و مـال یم
یا به جوړ په خپل همت پښتونستان کړم
د افســـوس اوښـــکې مې ځي لکه رودونه

**سپك وضعیت د پښتانه کله خوښېږي؟**
**ظـالمـان زمـا پـه حق نـه قـانع کېږي**

زه لـوی شـــوی یم آزاد آزادو غـرو کې
ځوځو ځله په دنیا کې تجربـــــه یـــم
هغـه چـا چې زمـا تـــــوره ده لیـدلې
بـیـا بـه هـم ورکـړم دنـیـا تـه امـتـحـان
ما په خوارو ســـترګو مه ګوره دښـــمنه
تـا سره کـه طلســـمونـه د فرنـګ دي
مـــا رد کـــړی د ګـــرزونـــو ګـــوزارونـــه

آزادۍ مې ځـای نـیـولی پـه مـغـزو کې
امـتـحـان مې دی ورکـړی آزمـوده یـم
د نـاکـامـه یې پـخـپـلـه ځـان ســـېزلی
خدای را کړي د زمرو په شـــان زلمیان
خپـل عیبونو تـه نظر وکـه عیبجنـه
مـا سره هـم خزانې د نـام و ننـګ دي
د افســـوس اوښـــکې مې ځي لکه رودونه

**پخـه خښـــتـه پـه بـاران کلـه رژېږي**
**ظـالمـان زمـا پـه حق نـه قـانع کېږي**

زه پښـــتون یم پښـــتنې یم زېږولی
ما ته شـــوی په طفلۍ کې دا وصـــیت دی

د پښـــتو پـه کـار و بـار یم پوهیـدلی
پلار نیکـه را تـه تېر کړی حقیقـت دی

# ځمکې تور لباس ګوزار کړ

ځـمـکې تـور لـبـاس ګـوزار کـړ
پـه تـمـام جـهـان رڼـا شــــوه
فلک تش شـو سـتارو نه
زه لار نه ګورم تیارو نـه

انــنـګي مې دواړه شـــــنــه دي
څـه بې رحـمـه زمـانـه شــــوه
د ظـالـم څېرې خـورمـه
غبر مې ټپ شـو د نارو نه

ګناه ګار شـــوم چې حق غواړم
شنه توتیان مې نه خلاصیـــــږي
نن د عـدل پـه دنیـا کې
د صـــیاد ظالم پنجرو نه

سربـازي زمـا پـیشــــه ده
نن سبا به مې خدای خلاص کړي
خلک یې څله راته ښــــیي
د نـفـاق د زنځـیرو نـه

زه ژونـدی یـم لا مـړ نـه یـم
خـونـړی ســــیلابـه راشـــــه!
خلک مې ولي میراث بولي
پښتونخوا د لوړو غرو نه

هـرګـز وچې نـه شــــوې نم نـه
هره شـــپـه مې راځي خوب کې
دا زما ملنګ‌جان ســترګې
شـــهـیـدان د ادیـرونـه

